هاري

05/07/2009 واشنګټن

# له امریکا څخه د افغانانو خپګان زیاتیږي

په کندهار او هلمند کي د "خنجر" په نامه د امریکایي عسکرو روان عملیات د امریکایي مطبوعاتو توجه ورجلبه کړېده. د جنجر عملیاتو هدف نیول، پاکول، او ساتل دي. دغه راز، بل هدف يې ددې سیمو له خلکو سره نژدې اړیکي درلودل او دا ځایونه تر هغه وخت پوري ساتل دي تر څو افغاني قوه ددې جوګه سي چي همدا سیمي په یوازي سر وساتي. البته، د دې عملیاتو یو بل هدف د راتلونکو جمهوري ریاست انتخاباتو لپاره څه زمینه برابرول هم دي. مګر سوال دا دی چي امریکایي او ناټو عسکرو په اتو کالو و نه توانېدل چي ثبات او امنیت تامین کړی، اوس به په دوو میاشتو کي څرنګه پدې توانېږي چي پدې منطقو کي امن او کراري راولي؟ د هېواد جنوبي سیمي د څو کلونو په اوږدو کي د پرله پسې ناکراریو مرکزونه سویدي. د بش په پېر کي همدې سیمو ته چندان توجه نوه سوې، او یوازي نظامي عملیات او مرګ وژبله ډېره وه، خو د ښاغلی اوباما حکومت ټینګار کوي چي پالیسي يې بدله کړېده، او غواړي د محلي خلکو په ګډون او همکاری د جنوب ناکراره سیمي ارامي کړي. پدې اونۍ کي فقط د دوو رپوټونو لنډیز لولئ.

د نیویارک ټایمز اخبار د جولای پر ۳ مه له لښکرګاه څخه پخپل رپوټ کي لیکي، د افغانستان په جنوبي سیمو کي عادي افغانان د امریکایانو پر خلاف عمومي پاڅون ته اړسوي دي. له امریکایانو او خارجیانو څخه د افغانانو همدا خپګان او کرکه د هغو امریکایي عسکرو لپاره حالات او شرایط لا ګرانوي چي دمګړی په سیمه کي د طالبانو د ایستلو په مقصد په عملیاتو بوخت دي.

د هلمند ولایت ځیني محلي استازي او مشران وایي، په ځینو ولسوالیو کي کلیوالو او بزګرانو د بهرني قواوو پر ضد وسله د خپلو کورونو د ساتلو او یا هم په بمباریو کي د خپلو عزیزانو د وژلو په خاطر اخیستې ده. نور کلیوالي خلک د لوږي، فقر، او یا لدې کبله له طالبانو سره یوځای سوي دي چي په سیمه کي يې طالبان حاکم دي.

همدااوس، په هلمند کي ٤٠٠٠ امریکایي مرین عسکر په عملیاتو لګیا دي. د دې عملیاتو اساسي هدف سیمه له طالبانو څخه پاکول دي. بل هدف يې د جنرال مک کریسټل د امر سره سم د طالبانو وژل نه بلکي د خلکو ساتل دي.

اخبار ادامه ورکوي او لیکي په کندهار او هلمند کي پراخي سیمي د طالبانو تر ولکې لاندي دي. ځآیي خلک وایي د دغو سیمو بېرته نیول،پاکول، او ساتل ډېرو جنګونو ته اړتیا لري. د هلمند له ۱۳ ولسوالیو څخه په ٥ کي حکومت ګرد سره نسته. د ناوې په ولسوالۍ کي، حکومت مازي د ولسوالۍ ودانۍ ساتي، او مامورین کلابند او محاصره دي.

په ځینو سیمو کي، د طالبانو حضور او حاکمیت دونه غښتلی او متمرکز دی چي کلیوالو د هغوی حکومت او اداره منلې ده، او د امریکایانو نویو عملیاتو ته د شک په سترګه ګوري. اکثره محلي خلک وایي د طالبانو سره خوشحاله دي، او بهرني عسکر نه غواړي.

په جنوبي سیمو کي د ۲۰۰٦ راهیسي د ناټو د عملیاتو په وجه مرګ ژوبله او جنګونه زیات او په زرهاوو خلک بې کوره او بېځایه سویدي. په جنوب کي، د بشر د حقوقو د کمیسیون مشر، عبدالقادر نورزی، وایي، "اوس ډېر خلک تر حکومت په طالبانو خوشحاله دي."

د نادعلي د شورا مشر، حاجي عبدالاحد هلمندوال وایي،" طالبانو خلک برمته کړیدي. خو خلک ایتلافي قواوو ته د دښمن په سترګه ګوري، ځکه په تېرو اتو کلونو کي خلکو له هغوی څخه هیڅ خیر او ګټه نده لېدلې." په هلمند کي، طالبان دایمي آډې لري. عامه خلک د ایتلافي قواوو له بمباریو، تلاشیو، او بندي کولو څخه بېزاره سویدي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د جمهورريس حامد کرزي د محلي چارو ناظم جيلاني پوپل وايي د پاکستان له لاري هلمند او روزگان ته طالبان تگ راتگ کوي. تېر کال د گرمسير په ولسوالۍ کي امريکايانو عمليات پيل کړل، همدې عملياتو د طالبانو اکمالاتي لاري وتړلې، او طالبان له سختو ستونزو سره مخامخ سول.

اخبار ليکي د کندهار او هلمند په ځينو سيمو کي د بهرنيانو په مقابل کي د عامه خلکو خپگان او بېزاري له ورايه ښکاري. خلک نور پر امريکايانو باندي اعتماد نه کوي. د مارجې اوسېدونکي وايي بهرني عسکر د شپې په تېارو کي د خلکو کورونو ته ور اوړي، کله کله دننه په کورونو کي خلک وژني، او خلکو ته خپل سپي ورښکاري او په داړي يې.

د کلي بزگر سپين گل وايي، " خلک د شپې له تلاشيو څخه بېرېږي. کله چي هغوی د شپې چاپې شروع کي، خلک طالبانو ته ور اوړي او جنگ کوي." يو بل لاروی وايي، " طالبان څوک دي؟ همدا محلي خلک دي." هغه وايي که چيري بهرنيان د هغه کوروته ور ننوځي، هغه به تر خپلي اخري سلگۍ پوري ورسره وجنگېږي.

محلي مشران وايي اکثره خلک پخپله خوښه او اختيار د طالبانو سره ندي يوځای سوي، بلکي هغوی بله چاره نلري. د پنجوايي ولسوالۍ د شورا غړی وايي داسي غريب خلک پېژني چي د خپلو ماشومانو د مړولو لپاره د سړک د غاړي ماينونه ږدي. هغه وايي ۸۰ فيصده خلک د وچ مجبوريت او لوږي له کبله د طالبانو سره يوځای سويدي. هغه زياتوي که چيري خلکو ته بله چاره پيدا سي، يوازي ۲ فيصده به د طالبانو سره تر اخره ودرېږي.

نيويارک ټايمز ليکي د هلمند ښاري شورا يو استازي حاجي عبدالله جان وايي، "خلک د کرزي پر حکومت باندي دونه بې اعتباره دی چي که حتی بهرنيان طالبان مات هم کړي، بيا به هم خلک د حکومت سره چندان همکاري ونه کړي. حتی که چيري امنيت سل په سل کي ښه سي، بيا به هم خلک د کابل پر حکومت باندي باور ونه کړي، ځکه حکومت خپله يوه ژمنه هم نده ساتلې، او په پېخر دوراغ يې ويلي دي."

بلخوا، د يو ايس نيوز مجله د جولای پر ۲ مه پخپل ويب سايټ کي د افغانستان په باب ليکي افغانان يو متل لري چي وايي،(دوې هندواني په يوه لاس کي نه نيول کېږي.) جمهورريس اوباما افغانستان د خپل خارجي پاليسۍ يو مهم جز بللی دی. خو په عين زمان کي د افغانانو او امريکايانو وژل ډېرېږي، د کابل پر حکومت باندي د خلکو اعتماد او باور ورځ په روځ را کمېږي، او د حالاتو په ښه کولو او رامهارولو کي د امريکايانو د قابليت او مهارت په باب شک او ترديد لا زياتېږي.

ښاغلي اوباما لگيا دي چي ۲۱۰۰۰ نور امريکايي عسکر افغانستان ته واستوي. اوباما دغه راز غواړي چي زيات ملکي ماهران او متخصصن هغه هېواد ته ولېږي. که عراق د جورج بش جنگ وو، افغانستان په تمامه مانا په اوباما پوري اړه لري. اوس و به گورو چي د اوباما اداره د افغانستان ډارونکی داخلي ډيناميزم څرنگه سمبالوي.

په هلمند کي، د "جنجر" په نامه عمليات پيل سويدي. د اوباما اداره غواړي چي د افغانستان جنوبي سيمي له ياغيانو څخه پاکي کړي. څلور زره امريکايي عسکر چي ټانکونه او هليکوپټر ورسره دي، د هلمند په دره کي په عملياتو بوخت دي. د افغانستان جنگ تر ډېره حده امريکايي سوی دی. ناټو هېوادونه د نورو عسکرو لېږلو ته زړه نه ښه کوي. اوباما غواړي چي په سيمه کي د القاعدې نوغی وباسي. اوس د اوباما اداره د ديموکراسۍ د خوروِلو خبري نه کوي. د اوباما اداره غواړي چي پوه سي چي څه شی کار ور کوی او څه شی کار نه ورکوي؟

يو شی چي هيڅ کار نه ورکوی هغه پاکستان دی. اکثره امريکايي قومندانان وايي په قبايلي سيمو کي د طالبانو او القاعدې اډې او د سېب ځايونه په افغانستان کي د سولي د راوستلو لپاره مهم خارجي تهديد دی. طالبان د اې ايس اې لخوا تمويل او روزل کېږي. پخوا، امريکايانو د افغان او پاکستان د پولو په اوږدو کي کوچنۍ امريکايي پوستې اچولې وې، مگر اوس امريکايان همدا پوستې خوشي کوي، او پر پراخو عملياتو باندي ټينگار کوي. امريکايان غواړي چي په کليو کي امنيت ټينگ کړي، او د خلکو سره نژدې اړيکي ولري.

په دواړو ملکونو کي، خلک پر خپلو حکومتونو باندي بې باوره سويدي. په افغانستان کي د کاميابۍ لپاره د ښه حکومت ټينگول يوه حياتي مسله ده. د عادي افغانانو لوی مشکل نن ورځ ځانمرگي حملې او د سړک د غاړي بمونه ندي، بلکي د هغوی لوی شکايت په حکومت کي بډي او اداري فساد دی. په کندهار کي د ارغند د موسسې مشره او مشهوره ليکواله او ژورنالسټه مېرمن سارا چېس وايي، "د حکومت سره په هره معامله کي بايد رشوت ور کړه سي. که چيري تاسو غواړئ خپل د برق مصرف تحويل کړئ، تاسو مجبوره ياست چي اتو دفترونو ته وځغلئ. او هرومرو به بډي ورکوئ."


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د حکومت لدي سپک چال چلند سره سره د کندهار په ښار کي په هرو دوو يا دريو ورځو کي دوه يا دري ساعته برق راځي، باقي پاتي ورځي او شپې سوځنده ګرمي او تپه تياره وي. حال داکي چي د امريکا د اشغال څه د پاسه اووه کاله تېرېږي.

بلخوا، د وردګ په ولايت کي امريکايان کليوالو افغانانو ته پيسي او وسلي ورکوي چي خپلي سيمي پخپله وساتي. د دغو ټولو هلو ځلو سره سره بياهم د افغانستان لپاره منابع ډېري لږ دي. د امريکايي قواوو نوی قومندان، جنرال مک کريسټل، غواړي چي په ٦٠ ورځو کي هېواد مطالعه او وګوري. د پنتګان چارواکي وايي څرګنده خبره ده چي ډېر کارونه بايد وسي. ډېر زيات چلنجونه او ستونزي سته. خو ناکامي د منلو وړ نده.


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de